د سترا وځواکمن څښتن تعالی په سپیڅلي نامه

# لوګر
# Logar

میاشتنۍ خپرونه

د تاسیس کال: ۱۳۸۳ هـ.ل

دلوګر اطلاعاتو او فرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنیزه، دیني او فرهنګي خپرونه

له معاذ بن جبل (رض) څخه روایت دی، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي:
بنده دقیامت په ورځ له خپل ځای څخه نشي خوځیدلای، ترڅو چې ورڅخه دا څلور پوښتنې نه وي شوې.
۱– دعمر یې؛ چې عمر دې په څه کې تیر کړی.
۲– دځوانۍ یې؛ چې ځواني دې دکوم کار په ترسره کولو کې تیر کړې او په څه کې بوخت وې.
۳– دمال یې؛ چې څه ډول مال لاسته راوړی او په څه کې یې لګولی.
۴– دعلم یې؛ چې ترکومه حده یې په خپل علم عمل کړی.
(البیهقي ترغیب)

چهارشنبه د۱۳۹۹ کال د مرغومي میاشتې دریمه، د ۲۰۲۰ عیسوي کال د ډسمبر درویشتمه | ۱ | پرله پسې ګڼه (۱۱۸) لومړی کال، اتمه ګڼه

## سرلیکنه...

## ژمی؛ دخلکو خوښي، اندیښنې او کمزوری اقتصاد!

ژمی دکال وروستی څپرکی، تر ټولو موسمونو سوړ او له اورښتونو سره مل وي. افغان ولس چې د اقتصاد له پلوه کمزوري دي، په دې موسم کې ژوند مخته وړل ورته ګران او ستونزمن تمامیږي. ځکه د خوراکي توکو سره، د سون توکي او نور اړین څیزونه ترلاسه کول ډیرو پیسو ته اړتیا لېدل کیږي، خو ډیرې پیسې بیا لوړ اقتصاد، کاري بسیاینې او په بازارونو کې د خرڅلاو توکو کې عدالت دا هغه څه دي، چې د وګړو هوسا ژوند پرې جوړیدلای شي.

افغانستان یو له هغو هېوادونه څخه دی، چې ډیري ولایتونه یې د کال په ورستۍ موسم کې ځمکه، غرونه او رغونه یې په واورو پوښل کیږي، چې له همدې واورین موسم سره سم هوا مخ پر یخیدو او خلک د ژوند چارې دپرمخ وړلو او سمبالښت ته هک او حیران پاتي وي.

لوګر ولایت هم له دې فصل نه خلاصی نه لري او له درنې واورې او اورښتونو سره مل وي، چې د مرکز نه لرو او پرتو سیمو کې د واورې د اورښت کچه کابو۸۰ سانتي متره او د سوړوالي درجه یې تر منفی ۲۵ درجو پورې رسیږي.

که بل لور ته وکتل شي، نو دې موسم ته بزګران او خلک په دې خوښ دي، چې اورښتونه دهیواد دښتې، غرونه او ځمکې زرغونې، اوبه پریمانه او د کرنیزو حاصلاتو نه په ډیره اندازه ګټمن کیږي. د واورو او باران د اورښتونو له کبله د شین او زرغون طبیعت په رامنځته کېدو دانسان روح او روان ته هم ګټه رسیږي، له پاکې هوا او ښکلي چاپیریال نه ټول وګړي ګټه اخیستلای شي.

همدارنګه د ژمې په فصل کې ولس دجګړو درېدو نه هم یو څه ناخه په کرار کیږي او په دې خوښ وي، چې وسلوالې ډلې په نوموړي موسم کې بهر هېوادونو ته ستنیږي او یا هم خپلې وسلې پرځمکه ږدي او د سړښت له کبله خپلو سیمو کې د آرامښت ژوند غوره کوي. خو ای کاش چې دوی تل همداسې جګړې بس کړې وای، او تل یې د آرامۍ ژوند نه یې خوند څکلي وای.

بل پلو، د خلکو کمزوری اقتصاد د ژمې سوړ موسم ګواښي، چې زیاترو خلکو په نورو فصلونو کې څه ناڅه ګټې لاسته راوړې وي، نو بیا د پیسو لګښت یې د خوړو او غیرې خوړو توکو په لوړو بیو ترلاسه کولو له وجې صفر ته رسیږي.

دغه د بېوسۍ ژوند افغانان دناچارۍ له کبله پرمخ وړي. په دې موسم کې د سون او د خوړو توکو بیې دنورو موسمونو په پرتله سوداګر او هټیوال د مختلفو بهانو له کبله دوه برابره لوړه وي، چې دغه یو ناوړه او ناروا عمل دی.

پورتنۍ ستونزې چې افغان ولس ورسره مخ دي، تر ټولو ستونزو په هېواد کې روانه جګړه، فقر، لوږه، بیکاري، بېسوادي او کمزوری اقتصاد دی، چې خلک ورسره لاس او ګریوان دي او هېوادوال په دې دردیدلي وضعیت کې ژوند د خدای په تکل پر مخ روان کړې وي.

ولس انګیري او وایي، چې دولت او بډایه وګړي دې په دغه دردیدلي او لویدلي حالاتو کې د بېوسو لاسنیوی او دنرخو څارنه ولې نه کوي!؟ او ولې په یوې جامع طرحې باندې کار نکوي، څو په هېواد کې د لوږې او فقر کچه راټیټه د عدالت او برابرۍ فضاء رامنځته شي.

ولسونه نه یوازې د نرخونو د لوړیدو په پار اندښمن دي، بلکې جګړې د هرڅه مخه نیولې او په جګړه ځپلې هېواد کې د بیکارۍ نه نیولې بیا تر بې عدالتۍ، ظلم بې انصافۍ او د تباهۍ کچه مخ په لوړیدو وي.

کار پوهان وایي، جګړه د بدبختیو مور ده، هر هغه څه چې د خلکو ژوند ته ستونزې پېښوي، لامل یې د نه څار او نه پوښتنې موجبات دي، چې باید هر څه د یو مدیریت تر سیورې لاندې رهبري شي.

د دوي په باور افغانان هم په دغه ستونزمن وضعیت کې شپې سبا کوي، چې دغه ځوریدلي وضعیت په ډیریو هېوادوالو منفي اغیزې ښیندلي او د ژوند په ټولنیزو، فرهنګي او مذهبي اړخونو یې دکمرنګۍ نښې له ورایه ښکاري، چې له دې ډلې د ترحم، شفقت، زړه سوی او د مرستو نه شتون او نور موضوعګانې دي، چې خلک یې لرې ساتلي او د قانون خلاف خپلسرې کړنې ترسره کوي.

راځئ هېوادوالو! دبې وسو درد خپل وګڼو، په لویدلي حالاتو کې دبېوزلو لاسنیوی وکړو، څو په دې سره به یو لور ثوابونه ترلاسه او بل لور د مسکینانو لپاره د وس په توان د هغوی اقتصاد به مو څه ناڅه پیاوړي کړې وي.

ترېیا دخدای پامان

مدیر

## د پل علم ښاروالۍ اداري ودانۍ جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه

د لیندۍ ۲۵ مه: دلوګر ښاروالۍ اداري چارو لپاره نوې ودانۍ جوړه او په رسمي توګه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.



د یادې ودانۍ د ګټې اخیستنې پر مهال لوګر والي محمداجمل شاه پور، د ولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي، لوګر سرپرست ښاروال عبدالقادر ستانکزي، د ښاروالۍ کارکونکي او د رسنیو استازو ګډون درلود.

لوګر والي محمداجمل شاه پور د دغه ودانۍ د پټۍ پرېکولو پرمهال خوښي څرګنده کړه، ویې ویل، چې لوګر هره ورځ د پرمختیایي پروژو د پرانیستې شاهد دی، چې دا د هېواد د پرمختګ، آبادۍ او ښیرازۍ د لاسته راوړنو او زیري ورکولو له بېلګو څخه ګڼل کیږي.

لوګر والي محمداجمل شاپور وویل، چې د پل علم ښاروالۍ اداري ودانۍ په څلور پوړ کې په اساسي ډول جوړه شوې، چې ۲۳ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راغلي.

لوګر سرپرست ښاروال عبدالقادر ستانکزي وویل، چې دغه څلور پوړیزه ودانۍ دیو کال په لړ کې جوړه شوه، چې لګښت یې د ښاروالۍ د پراختیایي بودجې لخوا ورکړل شوي دي.

ستانکزي وویل، یاده ودانۍ د ۲۵،۵۲۴ متره مربع ځمکې پرسر رغول شوې، چې ۱۵ بابه اداري خونې، میلمستون، دغونډو تالار، تشنابونه، دمحافظینو(ساتونکو) خونه، ډېپو خونه او نورې آسانتیاوې لري.



د یو بل خبر له مخې؛ د لوګر ښاروالۍ له لوري د پل علم ښار د نوي پروژې په سیمه کې د یونیم کیلومتر سړک د جوړیدو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو، ددغه سړک لګښت ۲۲ میلیونه افغانۍ ښودل شوي، چې د تشویقي برنامې لخوا د شپږو میاشتو په لړ کې رغول شوې.



## از یک اثر مجموعه شعری در لوگر، رونمایی شد



از یک اثرمجموعه شعری شاعر سیف الرحمن غریب یار تحت عنوان ( زندګي مې زندګي نه ؤ صاحبه) درلوگر به تاریخ 12 قوس با حضور داشت ادیبان،شاعران وفرهنگیان رونمایی گردید.

اثر شعری شاعر سیف الرحمن غریب یار تحت عنوان ( زندګي مې زندګي نه ؤ صاحبه) که به زبان پشتو نگاشته شده است که برگه آرای زیبا، زبان شعری باصلابت، دید شاعرانه نو و ارایه ترکیب‌های بدیع در شکل و محتوای مناسب و متوازن از ویژه گی های مهم اشعار این مجموعه محسوب می‌گردد، اکثراً اشعارطنزی و میهنی درآن به چشم می خورد و درموارد عنعنات نا پسند، وطن دوستی، متوقف شدن جنگ، تامین صلح به زبان شعر موضوعات را انعکاس داده است.

سخنرانان وادیبان ضمن تمجید ازاین مجموعه شعری با شکوه، مورد نقد این اثررا نیز قراردادند. این اثردر یکصدوسی وچهار صفحه برگ آرای شده است که در یازده صد نسخه زیور طبع پوشیده است.

در جریان پروگرام که بدین مناسبت در ریاست اطلاعات و فرهنگ لوگر با اشتراک محمداجمل شا پوروالی لوگر، ادیبان و فرهنگیان دایر گردیده بود، اهل قلم و فرهنگیان روی سبک شعری، خوبی ها وکاستی های مجموعه شعری یاد شده، نظریات شانرا ارایه نمودند.

عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات و فرهنگ لوگر می گوید که برنامه رونمایی کتاب یاد شده از سوی ریاست اطلاعات و فرهنگ لوگر تدویرگردیده بود، وی میگوید که کتاب ومطالعه جوانان و جامعه را بسوی رفاه و کامیابی سوق می دهد، رییس اطلاعات و فرهنگ علاوه کرد که راه اندازی همچون برنامه ها برای تشویق نویسنده گان و ادیبان ارزنده است و خاطر نشان ساخت که ریاست اطلاعات و فرهنگ همواره می کوشد که برای نهادینه شدن فرهنگ مطالعه و تشویق نویسنده گان گام های موثر بردارد.

اخترمحمدژوندون ومحب الله آرمل دو تن ازادیبان ضمن بیان لطافت وزیبایی های شعری این اثر برخی موارد آنرا مورد نقد قرار دادند واز نویسنده خواستند که بیشتردراشعارش نیازمندی های جامعه را با استدلال هنری انعکاس دهد. همچنان محمداجمل شا پوروالی لوگر، چاپ اثریاد شده را یک دست آورد بزرگ برای فرهنگیان وادیبان دانست و وعده سپرد که با ادیبان همکاری بیشترمی نماید. قابل یاد آوری است که مجموعه شعری ( زندګي مې زندګي نه ؤ صاحبه) اولین اثرطبع شده سیف الرحمن غریب یار است و به همکاری مالی والی لوگر طبع گردیده است.

## ازروزجهانی رضاکاران درلوگرتجلیل بعمل آمد

ازروزجهانی رضاکاران به تاریخ 25 قوس درتالارکتابخانه عامه لوگر با حضور رابعه ستانکزی معاون والی لوگر، عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ وده ها تن جوانان رضا کار به هدف تقدیرازفعالیت های رضاکارانه جوانان وایجاد انگیزه رضا کارانه، تجلیل بعمل آمد.

عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ لوگر می گوید که ده هاتن جوانان رضا کار ازمدت ها بدینسو با ریاست اطلاعات




وفرهنگ درکارهای رضاکارانه وبرنامه های ملی همکاربوده اند، آقای تسل ازجوانان رضا کار اظهارسپاس وقدردانی نمود وافزود که برای تقویت فرهنگ رضاکارانه برنامه های را روی دست دارد تا با انگیزه واحساس جوانان درآبادانی کشورسهیم شوند، وی نقش مردم و به ویژه جوانان را درکارهای گروهی و رضاکارانه مهم دانست و بر ترویج فرهنگ رضاکاری تأکید کرد.

رابعه ستانکزی معاون والی لوگرفعالیت های رضاکارانه جوانان را ستایش نمود و وعده سپرد که با جوانان همکاری همه جانبه می نماید.

نقیب احمد اکبری مدیرهماهنگی برنامه ها وخدمات امور جوانان ریاست اطلاعات وفرهنگ می گوید که درجریان امسال نسبت به سال های گذشته انگیزه فعالیت های رضاکارانه درمیان جوانان افزایش یافته است،وی علاوه کرد که تا اکنون درحدود سه صد تن جوانان رضا کارنزد این اداره ثبت می باشند وازطریق جوانان رضا کاربرنامه های مختلف درعرصه ( فرهنگ شهرنشینی، نهال شانی، آگاهی عامه جهت جلوگیری ازگسترش وشیوع ویروس کرونا ) راه اندازی شده است ونیز مدیریت جوانان ده ها تن جوانان را با تخفیف ویژه به برنامه های آموزشی کوتاه مدت وموسسات تحصیلات عالی ونیمه عالی معرفی نموده است، آقای اکبری علاوه کرد که کارگاه های آموزشی متعددی نیز برای ارتقای ظرفیت جوانان دایرشده است.وی ازدولت خواست که با جوانان رضاکاردرعرصه اقتصادی و کسب تحصیل همکاری بیشترنمایند.

مسروراحمد یکتن ازجوانان رضا کارمی گوید که بخاطرخدمت به وطن آماده است تا بدون کدام امتیاز روی احساس وانگیزه به مردم خدمت نماید، وی ازدیگرجوانان خواست که متحدانه برای پیشرفت کشور فعالیت نمایند.

این برنامه ازسوی ریاست اطلاعات وفرهنگ راه اندازی گردیده بود که تعدادی ازجوانان رضا کاربا اهدای تحسین نامه مورد ستایش قرار گرفتند.

**دولت په بیلابیلوسطحو کې دمعارف د ودې او دیني زده کړو د پراختیا، دجوماتونو، مدرسو او دیني مرکزونو دوضعې دښه والي او تنظیم لپاره لازم تدبیرونه نیسي.**

(داساسي قانون اولسمه ماده)